دی، په نورو ټولو حالاتو کې هغه د یوه پاچا په شان د رواج له مخې جنګ کړی دی.[۸۰] "د سکندر تاریخي بیوګرافي لیکونکی پروفیسر پیټر ګرین وایي، چې "د هندوش [هندوکش] جنګي قومونو سکندر له دغسې ډېر سخت مقاومت سره مخ کړ، چې هغه هېڅکله تجربه کړی نه و.[۸۱] "

## سکندر په هند کې:

سکندر د ۳۲۲ مخزېږدي کال په اپریل کې د خپل پوځ د دوه‌وو برخو په سروالي له اباسین نه او د هند په برخه کې چې له اټک نه یو څو میله لیرې په شمال کې پروت دی، تېر شو او د تاکسیلا نوی پاچا امفي په نظامي مرسته د پاچا پورس د لاندې کولو په نیت د پنجاب په لور روان شو. تکسیلا د اباسین او جیلم د سین ترمېنځ یو لوی ښار و او له جېلم نه اخوا د پاچا پورس علاقه وه، چې په هند کې تر ټولو پیاوړی پاچا و. ده هم د ښېسوس په شان فکر کاوه، چې سکندر به له خپل پوځ سره د جېلم له سین نه تېرېدلی ونه شي، خو سکندر له هغه نه تېر شو، لکه چې دمخه له امو نه تېر شوی و. په هغې جګړې کې چې د پورس پاچا "پوځ او د سکندر د پوځ ترمېنځ ونښتله، د هند له پوځ نه نږدې شل زره پلي او درې زره سواره تلف

شول. یونانیانو هم تلفات ورکړل. په پای کې پاچا پورس سکندر ته تسلیم شو او د دواړو ترمېنځ روغه وشوه او دواړه سره مخامخ شول. پورس د سکندر د یوې پوښتنې په برابر کې چې اوس څه درسره وکړم وویل چې "دغسې سلوک راسره وکړه، چې یو پاچا یې باید وکړي. " سکندر بیا وپوښته، چې که کوم بل څه رانه غواړې؟ په ځواب کې یې واورېدل چې "زما په دغې غوښتنې کې هر څه پراته دي. " سکندر په دغه ځواب سره خوښ شو او پاچایي یې بېرته ورته ورکړه(۸۲).

د غالب او مغلوب پاچایانو دغه محاوره د احمد شاه دراني او د پنجاب د مغلو مغلوب وایسرای میر معین الملک محاوره راپه یادوي، چې څه باندې دوه زره کاله وروسته له هغه لاهور ته نزدې شوې وه. معین الملک د احمد شاه د دغې پوښتنې په ځواب کې، چې که زه ستا لاس ته درغلی وای، څه به دې راسره کړي وای؟ وویل چې "ما به دې سر پرې کړی او هغه به مې خپل شاهنشاه ته استولی وای. " احمد شاه بیا وپوښته، چې اوس چې ته زما په لاس کې یې څه درسره وکړم؟ هغه بیا وویل چې "که سوداګر یې خرڅ مې کړه، خو ته پاچا یې (یو عادل او زړه سواندی پاچا ) احسان راسره وکړه او ومې بښه. " احمد شاه همدغسې وکړل(۸۳).

خو سکندر د خپل بري په هسکه او د ځوانۍ په قوت

کې د خپل پوځ په برابر کې مغلوب شو. له جنګ نه ستومانو او له خپل وطن نه مسافر سرتېرو او افسرانو يې نور نه غوښتل جنګ وکړي او دمخه ولاړ شي. سکندر ډېر کوښښ وکړ، چې هغوی له خپل عزم نه واړوي، خو بريالی نه شو که څه هم د اوږدې وينا په ترځ کې يې ورته وويل چې تاسې زما په قومندانۍ ډېر هېوادونه لاندې کړي او نږدې ده چې ټوله نړۍ ونيسو او "... د غسې امپراتوري به هېڅ پولې ونه لري، خو هغه چې خدای د ټولې نړۍ لپاره ټاکلې دي. "دا يې هم ورته وويل، چې "لاندې شوې نړۍ به تاسو پورې اړه لري، د شتمنۍ زياتره برخه يې لا دمخه د تاسو په لاسونو کې لوېږي او هغه وخت چې ټوله اسيا لاندې شي، زه به له دېنه هم وړاندې لاړ شم چې يوازې ستاسې غوښتنې پوره کړم. له هغه نه چې تاسې خيال کوئ ډېر شته او قدرت به ولرئ. زه به هغوی چې پاتې شي، د هغو د رخې وړ وګرزوم چې غواړي ستانه شي."

کوي نس (Coenus) يو افسر د نورو له خوا د اوږدې مودې وينا په ترځ کې د ټولو د ګټې او مصونيت په خاطر وويل، چې ټول موجود پوځيان "... له تا سره د جنګ خطرونه او سختۍ ګالي او له هغو نه ځينې وژل شوي، ځينې چې په زخمونو سره معيوب شوي وو، د اسيا په بېلو بېلو برخو کې پاتې شوي دي او ډېر نور له ناروغۍ نه مړه شوي دي او په دې ډول له هغه لوی پوځ نه کم پاتې

SABAWOON.COM

شوي او د يو ځو نورو روغتيا او پخواني قوت او عزم له منځه تللی دی. دوی هر يو په تينګه غواړي خپل پلار او مور يا خپله مېرمن او بچيان، که ژوندي وي، ووينې. تول د خپل کور اشنا خاوره غواړي په دې هيله... چې له سره يې ووينې او ژوند وکړي، نه په غريبۍ او بې نومۍ سره، د پخوا په شان، بلکې په هغې خزانې چې د تا له برکته يې ګټلي په ښه نامه او شتمنۍ سره. کوښښ مه کوه د دغسې کسانو قومندانې وکړې، چې نه غواړي درپسې لاړ شي، که د هغو زړه درسره نه وي، ته به د هغو پخوانۍ زړورتيا يا پخواني روح ونه مومې... صاحبه! که تر هر څه لوړ يو څيز وي، چې يو بريالی کس پرې پوه شي، هغه دا دی چې څه وخت پر ځای ودرېږي.[۸۴] "

## د سکندر وروستی وخت:

سکندر بيا نه يوازې "پر ځای ودرېد" بلکې پر شا ولاړ او په سره اوړي کې د بلوچستان د ګاکرو له پاسه د مقدونيې په لور روان شو او وروسته له هغه چې په دغې سختې لار او تودخې کې يې ډېر سرتېري هلاک شول، بابل ته ورسېد. تر هغه د مخه د سوسه (Susa) په ښار کې د باختر او فارس ملکونو له لوړو کورنيو نه په يوه روايت نهه زره او په بل روايت لس زره نجونې د پوځ سرتېرو او

SABAWOON.COM

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD